

# دګوندونو مرامونه او فرعي موخې

نورمحمد غفوري

## دوهمه برخه

مخکې (په لومړۍ برخه کې) مو ولوستل چې د ګوند په ستراتیژیک مرام کې د اوږدې مودې له پاره په عامو جملو، مختصر ډول او په یوڅه مجرده بڼه د ګوند اساسي ستراتیژیکې غوښتنې، موخې او ارزښتونه لیکل شوې وي او له هغو څخه ښکاري چې ګوند د کومو ټولنیزو طبقو او ګروپونو په ګټه کار کوي؟ د کومو اساسي ارزښتونو دفاع او د کومو نورو په وړاندې دریږي؟ د اقتصاد، کلتور او سیاست په برخه کې د کومو قوانینو د جوړېدو ننګه او د کومو نورو مخنیوی کوي؟ داسې چې ګوندي مرام د تاریخ په جاده کې د ګوند د حرکت اساسي مسیر او تګ لوری ټاکي، خو په هغه کې د ټاکلي وخت او روڼښیو مبرمو مسئلو له پاره د ځواب موندل او یا د واکمنۍ په مختلفو پوړونو کې د ګوندي اهدافو وضاحت په تیره بیا د عامو وګړو له پاره ستونزمن وي.

ددې له پاره چې هر وخت او په هر ځای کې د شرایطو سره سم د ګوندي مرام د تحقق په خاطر عملي ګامونه پورته کړای شي، لازمه ده چې وخت په وخت د ګوندي مرام محتوی او مضمون ولس ته تشریح شي، په معین وخت او ټاکلو عینی شرایطو کې د مرامي اهدافو او یا د هغو د یوې معینې برخې د عملي کولو له پاره مشخصې لارې او ټاکلې تدبیرونه او اقدامونه په ګوته شي. له دې کبله اړتیا ده چې ګوند یوازې د خپل اساسي مرام په چاپولو او ویشلو بسیا ونه کړي، بلکې د وخت او سیمې له اړتیا سره سم په عامه او معموله ژبه په لازمو فرصتونو کې د فرعي برنامو په طرحه، تدوین او ترویج کې اقدام وکړي.

معمولا د ګوند له پاره په لاندې ځایو او حالاتو کې د فرعي برنامو اړتیا شته:

1. **انتخاباتي برنامه Wahlprogramm:** د ګوند هغه سیاسی پروګرام دی چې د هېواد په کچه د جمهوري ریاست د انتخاباتو او یا پارلماني انتخاباتي دورې (د منځنې وخت) له پاره جوړیږي. په دې برنامه کې په وضاحت سره لیکل کیږی چې ګوند د ولسمشرۍ په راتلونکو پنځو کالو او یا په راتلونکی تقنینی دوره کې څه غواړي، د څه له پاره یې غواړي او څنګه او په څه وخت کې یې غواړي؛ او خپل پلانونه د کومو امکاناتو او وسیلو په زور عملی کوي؟

انتخاباتی برنامه هغه وخت بڼه جوړیدای شی چې ګوند د هیواد د سیاسی، اقتصادی او اجتماعی اوضاع په دقیق تحلیل لاس بری وي. د هیواد د تکامل تاریخي مرحله، د ټولنیزو طبقو او قشرونو ترمنځ اړیکې او د کمیت او کیفیت انډول دقیق وپیژنی. د نړۍ او سیمې اوضاع وڅیړلای شی او په هغو کې د خپل هیواد موقف او ملي ګټې مشخصې کړي.

انتخاباتي برنامه د انتخاباتو له شروع نه لړ مخکې تصویب او نشریږي او د انتخاباتي غوښتنو عمده لوری ټاکي. په حقیقت کې انتخاباتی برنامه درې غوره دندې لری:

**الف:** د انتخاباتي برنامې **يوه** غوره دنده داده چې هغه غوښتنې چې په ګوندي مرامنامه کې په يوڅه مجرده او عامه توګه د اوږدې مودې له پاره ځای شوې، ځينې برخې يې د راتلونکې تقنينی دورې له پاره د عينی او ذهنی شرايطو له په نظر کې نيولو سره په مشرح او مشخص ډول عامه افکارو ته وړاندې کړی، د پلې کيدو له پاره يې ګام په ګام تدبيرونه، پلانونه او اقدامات هم په ګوته کړې او د هغو د تسلسل اود عملی امکاناتو په اړه د ولسونو قناعت تر لاسه کړې.

**ب:** د انتخاباتي برنامې **دوهمه** مبرمه دنده دا هم ده چې د انتخاباتی کمپاين په بهير کې د ګوند د اعلان او اشتهار له پاره کار ورکړې. د انتخاباتي برنامې تر نشر وروسته هر څوک او ټول خلک پوهيږې چې که دې ګوند ته رايه ورکړې، په راتلونکې تقنينی دوره کې به کوم کارونه انجام کړې؟ د اعلان شوو موخو د پيژندنې پر بنسټ هر څوک او هر ټولنيز ګروپ پريکړه کوې چې دې ګوند ته رايه ورکړې او که څنګه؟ په انتخاباتی دوره کې د انتخاباتي برنامې په نه شتون کې د ولسونو پراخه کتلې د ګوند سياسی موضع سمه نه شې پيژندلای.

**ج: دريم** داچې له نورو سياسي ګوندونو او سازمانونو سره د ائتلافونو او ګډ کار د کولو امکانات څرګندوی او سياسي پولې ټاکې. د داسې برنامې په موجوديت کې ګوند د ولسمشرۍ له پاره د انتخاباتو په مرحله کې د کانديدانو په شخصی کرکتر پسې نه ځې، بلکې د هغوی په انتخاباتي منشورونو کې خپل سياسی اهداف لټوې او له هغوی سره د خپلی انتخاباتی برنامې د محتوياتو د ګډون او ورته والي پر بنسټ د اعتبار وړ پريکړه، تفاهم او پروتوکولونه کوې. په دې حالت کې ګوند هغه چاته رايه نه ورکوې، چې بريا يې د خارجی او داخلی طرفدارانو په زور حتمي وي، بلکې له هغه کانديد حمايت کوې چې په ملي کچه د ګوند د طرحه شوو هدفونو له پاره په پوزيسيون او يا اپوزيسيون کې اغيزمن کار وکړي. همدا موضوع د پارلمان او په ټيټه کچه په نورو انتخاباتي پروسو کې هم په پام کې نيول کيږي.

د انتخاباتو په سيالۍ کې ټول ګډون کوونکي نه بريالی کيږي، خو هر ګوند د خپلو اهدافو د تشريح او تبليغ له پاره له دې موقع څخه اعظمی ګټه اخلی. انتخاباتی برنامه ګوند ته امکان ورکوي چې د حوادثو په تحليل فکر وکړي، په سياسي ډګر کې مخکښ شی، د حوادثو په لکۍ پسې له تګ څخه ګوند وژغوري او د نورو د پيښو او تقليد پر ځای پخپله ابتکار وکړي او د سياسي پيښو د اهميت ټاکنه او لارښوونه په لاس کې ونيسي.

ځينو ګوندونو د ولسمشريزو ټاکنو په تيرو دورو کې د کرزي او بيا غنی څخه په دې خاطر ملاتړ وکړ چې د دوی په نظر له هغه سره د زوررورو خارجي ځواکونو او د «پاچا جوړوونکو» داخلی حلقو ملاتړ موجود او بريايې حتمی وه. د هغو ګوندونو د رهبرانو دا نظر وو، که دوی وغواړي او که نه، نو نوموړي کانديد ورباندې ولسمشر کيږی؛ نو دوی چې «سياست کوی» بايد له بريالی کانديد څخه دفاع وکړي او په مغلوب لوری کې ځانونه وا نه چوي!!! هغه متل دی چې (بختور يې پر بل ازمويی او کم بخت پر خپل ځان)، دې رهبرانو د خارجي ملکونو له تجربو زده کړه ونه کړه او پر خپل ځان يې دا ناکامه تجربه او هغه هم وار وار و ازمويله. عملی تجربو وښوده چې دا يو غلط نظر دی او د نورو په کانديدانو پسې منډې وهل نه ګوند ته ګټه رسوي، نه ولسمشر تر بريا وروسته ګوند ته اهميت ورکوي او نه په دې طريقه حمايت په ملي کچه د ګوند د هدفونو د عملی کولو له پاره ضمانت کولای شي. که دې رهبرانو له کانديدانو سره کومه پټه معامله نه وي کړې، نو په حقيقت کې يې ددې سترې غلطۍ په پايله کې ځانونه او د ګوند ټول غړي د «زورورو خارجي ځواکونو» او «داخلی کِنګ ميکرانو» په بی معاشه مزدورانو بدل کړل. د داسې مرګونې غلطۍ د تکرار اساسي علت د ګوندي مشخصو برنامو نشتوالي، په پريکړو کې له ګوندي غړو سره د مشورې کمبود، د راتلونکو حوادثو او د هغو د مسير پيژندلو د تحليل د استعداد نه شتون، مخکې تر

مخه د انتخاباتو له پاره د چمتووالي نه لرل او د مرامي هدفونو د غوره بللو پر ځای د قومي، محلي، شخصی او نورو علایقو لومړي توب او داسې نور بللای شو.

د انتخاباتو په ټولو مرحلو او پړاوونو کې دا مهمه ده چې ګوندونه خپل مرامونه ولری او مخکې له مخه پریکړه وکړي چې په یوازې ځان او یا له کوم بل ګوند یا نورو څو ګوندونو سره یوځای انتخاباتو ته ور وړاندې کیږي؟

که ګوند د ولسمشری او یا پارلماني ټاکنو په بهیر کې په مستقله توګه او یوازې ځان د انتخاباتو سیالیو ته وردانګي، په هغه صورت کې خپله ټوله انتخاباتي برنامه هم د خپل اساسی مرام د محتوی په رڼا کې جوړوی؛ خو که ګوند له نورو سیاسی ګروپو او بل ګوند یا ګوندونو سره د انتخاباتو له پاره ائتلاف کوی، مجبور دی چې انعطاف وکړي، په انتخاباتي برنامه کې د ځینو خپلو مرامی غوښتنو څخه تیر شي او د نورو پارټنرانو او د ائتلاف د غړو د مرامونو له پاره ځای خالي کړي. په داسې حال کې د بریالیتوب نه وروسته هم لازمه ده چې په خپله وعده وفا وکړي، دوه اړخیز باور مات نکړي، د خپلو ځینو اهدافو د پلي کولو پرځای په انتخاباتي برنامه کې د ائتلاف د غړو د مرامونو د ځای پر ځای شوو موادو د عملی کولو له پاره کار وکړي. که ګوند په انتخاباتي کمپاین کې مستقل وړاندې شی، خو د انتخاباتو تر پای ته رسیدو وروسته د بل ګوند سره ائتلاف وکړي، هم باید د خپلې انتخاباتي برنامې د ځینو موادو پر ځای د مؤتلف ګوند د انتخاباتي برنامې د موادو له پاره ځای خالي کړي. په ائتلافي برنامه کې د هر ګوند د غوښتنو برخه معمولا په ولس کې د ګوند د رایو د فیصدي د تناسب او مسلکي ظرفیتونو له په نظر کې نیولو سره د دواړو لورو په توافق ټاکل کیږي.

د انتخاباتي برنامې په جوړولو کې د هغو محتوی، ظاهري بڼه او د نامه انتخاب مهم رول لوبوي چې د ملی او نړیوالو شرایطو، د ملت د روحي حالت او سیاسی وضعیت سره سمون ولري.

انتخاباتی برنامه د ګوندي اصولو سره سمه په ګوندي کنګره او یا هم په ملي ګوندي کنفرانس کې تصویبیږي او معمولا دري یا څلور میاشتې د انتخاباتو له نیټې تر مخه نشریږی، د ګوند غړو ته ویشل کیږي، خلکو ته رسیږي او په ویبسایټونو کې خپریږي.

د انتخاباتي برنامې د مهمو ټکو د توضیح او روښانتیا او د موجودو سوالونو د ځوابونو د ورکولو له پاره غونډې جوړیږی او د هغو د موادو پر اساس انتخاباتی کمپاین کیږي.

2. **ولایتي او ولسوالي انتخاباتي برنامې:** دا هم د ملي انتخاباتي برنامې په شان دي، خو د عمل جغرافیایی ساحه یې یوازې په یوه ولایت او یا یوه ځانګړې ولسوالی پورې محدودیږي او زمان یې هم د ولایتي او ولسوالي شوراګانو د تقنیني دورې د کلونو پر بنسټ ټاکل کیږي. په دې برنامو کې د ولایت او ولسوالیو په سطحه د ګوندي مرام د موادو دقیق او ګام پرګام پلی کیدل د ولایتي شورا او ولسوالي شوراګانو د ټاکلي انتخاباتی دورې له پاره خلکو ته وړاندې کیږی. د ولایت انتخاباتی برنامه معمولا د ولایتی ګوندي کنفرانس او د ولسوالی انتخاباتي برنامه د ولسوالی د ګوندي کنفرانس لخوا تصویبیږي.

دا څرګنده خبره ده چې ولایتي انتخاباتي برنامه د محتوی له لحاظه د ملي انتخاباتي برنامې یوه برخه او د ولسوالیو انتخاباتي برنامې د اړوندو ولایتونو د انتخاباتی برنامو جز وی، خو په ولایتی انتخاباتي برنامه کې د نوموړي ولایت په اړه د ملي انتخاباتي برنامې محتویات په کافي او لازمی اندازه توضیح او تشریح کیږي او د ولسوالی په انتخاباتی برنامه کې هم د اړوند ولایت په انتخاباتي برنامه کې د نوموړې ولسوالی په باره کې د ځاي پرځای شوو اهدافو پوره او مشرح وضاحت کیږی.

که ګوند په ملي او ګوندي سازمانونه په ولایتی او د ولسوالی په سطحه انتخاباتی برنامې ولري، د ولسمشری د کاندید، د پارلمان د کاندیدانو او د ولایتی او ولسوالی شوراګانو له

کاندیدانو سره په انتخاباتي کمپاین کې ډېره مرسته کوي. د ګوندیتوب ځوښنا او شیره همداده چې ګوندیان د فعالیت په اړوندو سیمو او ساحو کې د ستونځو په پېژندلو، ښکارولو، تحلیل او حلولو کې له جمعی عقل څخه کار او کټه اخلي او ګوندي رهبري باید د ګوند غړو ته دا شرایط چمتو کړي. که ګوند په دولتي واک کې نه وي، انتخاباتي برنامې ګوندیانو او خلکوته په ډاګه کوی چې د دولت له کومو کړو باید ننګه وشي او له کومو نورو سره یې باید مخالفت او مبارزه وشی. په حقیقت کې انتخاباتي برنامی او نور فرعی ګوندي پروګرامونه د دولت په وړاندې د بدیل (الترناتیفی) سیاست طرحې او مواد جوړوي.

3. **د عمل برنامه Aktionsprogramm:** د عمل برنامه د ګوندي پروګرامونو یو ډول دی چې په ګوندي ستراتیژیک مرام کې د تعیین شوو اهدافو په لور ځانګړي فعالیتونه او خاص عملی ګامونه په غېږ کې نیسي. یا په بل عبارت سره: مرامي مشخصو، محدودو، ممکنو او پر عینی ضرورت ولاړو اهدافو ته د رسیدو له پاره په ټاکلي وخت کې مفصل او تشریحی پلان ته د عمل برنامه وایي.

د عمل په برنامه کې هم د انتخاباتي برنامې په شان ذکر شوي اهداف د ګوندی ستراتیژیک مرام په نسبت مفصل او اړونده موضوع په لازم تفصیل او تشریح سره لیکل کیږي. د عمل برنامه  د ګوندي سیاسی فعالیت له پاره د منځنی مودې (منځ مهاله) پلان دي.

د عمل برنامه هغه وخت هم د پام وړ ګرځي چې دوه یا څو ګوندونه سره ائتلاف او یا وحدت وکړي. که چیرې د وحدت پلویان د ستراتیژیک مرام د تصویب په اړه واک مشترکې کنګرې ته ورکړی، نو تر کنګرې پورې د عمل په برنامه کې د ځای پر ځای شوو هدفونو د پلي کولو له پاره یوځای فعالیت او کار کوي. که چیرې څو ګوندونو یو له بله سره ائتلاف کړی وي، فدراسیون یې رامنځته کړي وي او هر یو خپل مستقل سازمانی تشکیل، نوم او اساسنامه ساتي؛ خو د مشترکو فعالیتونو له پاره د عمل برنامه جوړوي چې ورپکې د هر ګوند د مرام څخه ځیني مواد پکښې ځای شوی وی. یا په بله جمله، د عمل په برنامه کې د ټولو ائتلافی ګوندونو د مرامونو مشترک ټکي ځای پر ځای کیږي. د ائتلافی ګوندونو د عمل برنامه کیدای شی د لږ او یا ډیر وخت د پاره وی.

دلته ارزي چې ذکر کړو چې ګوندونه کولای شی په ملي کچه او یا په ولایتي او ولسوالي کچه یو له بله سره ګډې موخې ولری او د هغو د عملي کولو له پاره د سیاست او دولتي واک په همدې سطحو کې ائتلافونه جوړ کړي. داسې هم کیدای شی چې په خاصو حالاتو کې د دوو ګوندونو ترمنځ په ملی کچه رقابت موجود او سیالي دوام ولري، خو په کوم ولایت یا ولسوالی کې د هغو د سازمانونو ترمنځ د مشترکو هدفونو د پلي کولو له پاره ائتلافونه را منځته شي؛ یا برعکس.

4. **دمعینو مسئلو په اړه د ګوند د موضع څرګندول Positionspapieren:** داسې هم پیښیږي چې ګوندونه د یوې یا څو مهمو مسئلو په اړه خپل نظر د یوې اعلامیې یا اطلاعیې په واسطه اعلان کړي. د ګوندي موضع د اعلان په پروګرام کې کیدای شی چې ګوند مثلا خپل مکمل اقتصادی پروګرام او یا تنها د مالیي د جګولو په اړه خپله موضع خلکو ته څرګنده کړي. همدا اوس چې دولت د هېواد د اقتصادي رکود په حالت کې په وړو او متوسطو شرکتونو او هغو کالیو مالیې جګوی چې د ټولنې عام وګړي ترې هره ورځ کټه اخلي، کیدای شي چې ګوندونه یې په اړه خپلې موضع ګانې څرګندې کړي. همدا ډول ګوندونه کولای شی د سولې او جنګ په اړه، د دولتي ځمکو د غصب اوغاصبینو په اړه او یا ددې دریو واړو موضوعګانو په اړه خپله موضع څرګنده او له خلکو سره شریکه کړي.

د ګوندي موقف او موضع د اعلانولو له پاره په پرمختللو هیوادونو کې د لیکلو ځانګړی شکل منل شوی او رامنځته شوی دي.

5. **تکتيکي پلانونه:** د انتخاباتي او عملياتي برنامو د ښه پلي کولو له پاره تاکتيکي پلانونو او روڼئيو شعارونو ته هم اړتياشته چې ګوندي رهبران يې بايد تل او په جدي ډول په نظر کې ولري. تکتيکي پلانونه د ټول ګوندي سازمان په فعاليت پورې تړلي، خو په عملي ډګر کې زياتره د ګوندي لومړيو سازمانی کړيو او ګوندي غړو او مينه والو په کار او فعاليت کې ځان ښکاروي. تکتيکي پلان د ستراتيژيکو موخو د پلي کولو له پاره د ګوندي مبارزې د مختلفو او ډيرو ممکنو لارو څخه په ټاکلو شرايطو کې د ښې، اقتصادي، بې جنجاله او لنډې لارې انتخابول دي. تکتيکي پلانونه د کمې مودې له پاره وي او کيدای شي چې زر زر بدل شي. تکتيکي پلانونه ګوندي غړو ته ورښئي چې پخپلو ورځنيو فعاليتونو کې د مرامی موضوعاتو د تبليغ او پلي کيدو په هکله څنګه چلند وکړي.

6. **ورځني شعارونه:** روځني شعارونه د ورځنيو مهمو مسئلو په اړه د ګوند د نظر مهم ټکي دی چې د ګوندي غړو د روځني فعاليت لوری معلوموی او د مبارزې د روحيې په غښتلتيا کې يې ښه رول لوبولی شي. ګوندي ورځني شعارونه د ځو مجردو، عامو او انتزاعی جملو ميخانيکی ټولګه نه وي، بلکې د ملت مخ ته پرتو ورځنيو غوره مسئلو په اړه د ګوندی مشخصو غوښتنو او موقف ښکارندوی وي. د ګوند روځني شعارونه او تکتيکي پلانونه يو له بله سره تړلي دي.

لکه څنګه چې د ګوند د بريا له پاره يوازې د ستراتيژيکو هدفونو ټاکل کافي نه دي، همدا ډول ګوند بايد يوازې دروځنيو شعارونو په تعيين کې هم هومره ډوب نه شي چې خپل ستراتيژيک (اوږد مهاله) او منځمهاله مرامي اهداف ځنې هيرشي. ورځني تکتيکونه او شعارونه (لنډ مهاله پلانونه) د ګوندي ستراتيژيکو اهدافو د ښه پلي کيدو له پاره دی او اړينه ده چې د مبارزې په هره مرحله، هر وخت او هر پوړ کې د ستراتيژيکو، عملي برنامو او روځنيو تکتيکي پلانونو او شعارونو تر منځ ديالکتيکی اړيکې او لازم تناسب په پام کې ونيول شي.

په آخر کې بايد ووايم چې په کوم وخت او کومو حالاتو کې د ګوندي مرامونوله کومو ډولو کار واخيستل شی، د وخت او حالاتو په اړتيا او د ګوند او ګوندي رهبری په وړتيا پورې اړه لري. ګوندي مرام، انتخاباتي برنامي، د عمل برنامي او د موضوعاتو په اړه د ګوندي موقف روښانتيا د محتوی، د ليکلي بڼي او حجم په پرتله يو له بله سره فرق لری چې د هغوی حرفوی او علمی ليکل او د بيلوونکو علامو څيړل بيل بحث غواړي.

ددې ډول ډول برنامو او تکتيکی پلانونو او روځنيو شعارونو د جوړولو د موضوع د تعقيب او ترتيب له پاره په ګوند کې يوې دايمي فعالي څانګې ته اړتيا ده چې د ګوند د علمی او مسلکی سياسی پخو کادرونو څخه جوړه وي او له ټولو ولايتي سازمانونو او مهمو دولتی واحدونو سره اړيکې ولري. په داسي لوی کار کې کيدای شي چې د ګوندي غړو د مسلکي ماهرانو تر څنګ د نورو هغو مسلکي ماهرانو له پوهې څخه هم کار واخيستل شي چې د ګوند غړيتوب نه لري، خو له ګونديانو سره يوځای کارکولو ته چمتو وي.

(پای)